مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

خالق رشید ۲۰۱۹/۰۷/۱۰

# یادونه او تابوتونه

## (لنډه کیسه)

خان ماما، داشل دیرش کاله کابل ته نه وراغلی ، تیره اوونی یې دخلکو په وینا له کلونو وروسته تشریف راوړ، ترخوزموږ کورته را رسیده دده نفس هم تلاشیو ورایستلی و... کله چې کورته راورسید سترې ښکاریده ، زر یې ځان تشناب ته ورساوه ، اودس یې تازه کړ، خپل کالي یې زربدل کړل اوخپل مساپرانه لمونځ یې ترهغوچې موږ چای ورته راووړ وکړاوله دعا ورسته یې وار دواره زموږ مشرتره ته ترخوله راووتل :

- یاره ... داسي ښکاري چې کابل هم اوس هغه پخوانی کابل نه دی ، له لارويي هم پل صراطونه جوړشوي، په هرځلورلاره کې سپي دسړیو پرځای خلک تلاشي ، ځان ورپوري موښي ، کالی بې نمازه کوي اوترټولو نادره خولاداوه چې پخوا به موږ کابل ته په اوداسه راننوتلو، خو اوس دا بې شرمه سپي ترهرڅه دمخه پرسړیو اودسونه ماتوي اوبیا کابل ته لاره ورکوي ... ښکاري چې اوس دسړیو کارونه سپیو آسانه کړي دي ؟

ماما له ډیرې مودې وروسته کابل راغلی و، خوهغه چې کوم کابل لیدلی و،هغه دجنګونو اوبربادیو، له جنګی لنډغرو ، غلامانو دمخه کابل و، هغه کابل چې پرهغه مهال دسپیوبازار دومره په کې ګرم نه و لکه نن سبا چې یې دی ځانته ګوته په غاښ کړی و... ماما کلونه مخکې خپله عسکري هم د کابل په پولیسوکي تیره کړې وه، ځکه خو ددغه ښارپه لنډو اواوږدو کې له هرڅه سره ولد اوبلدو، ده ته ورپه یاد وو چې بیسواده ملایان به کابل ته راغلل هغوی به د (بانک ملی افغانستان ) لوحه څنګه په عربي تلفظ سره لوسته ... اویا به یې په لاحوله ولاقوة سره د (بکس تلیفون ) جمله په ناوړه نیت اوبي ادبی سره لوسته اوترڅنګ به یې له قهراوغضب سره یوځای تیرشو... خان ماما هماغه کابل لیدلی و چې د ځوانانوزړونه به یې په خپل لوروركښل ، سندرې به یې ورته ویلي اوپه غړانګوکي به یې په درنښت یاداوه :

کابل ته مه وایه چې وران شي
په کې پراته دي ښه ځوانان کاره بریتونه

کابل ته مه وایه چې وران شي
په سرچوک کې ښنګریوالي ناستي دینه

او یا:

جنګی ژاړي ووړکی بیا کابل ته ځینه ...

موږ دخان ماما ډیرعزت کاوه، ځکه چې کله به موږ کلي ته ورغلو،ده به سترګي راته اینسودي،زموږ به یې دومره عزت کاوه چې زموږ به میاشتي اوکلونه دده سترګي اینسودل او ښه راغلاست له یاده نه وتل، دی به موږ هره ورځ له ځان سره دکابل ښکلوسیمو، ښکلومانیو اوښکلو هوټلونوته بیوه، خوچې کله به موکورته رارسولی نه و، ده به ترهرڅه دمخه خپل کالي بدلول، اولمونځ به یې کاوه، موږ یوه ورځ هم دی ونه لید چې له بازاره به راغلی وي اوپه هم هغوجامو کې به یې لمونځ کړی وي...دده په دغه چل موږپه لومړیو کې نه پوهیدو ځکه خو تردیرو شپو پوري زموږ ټولو لپاره دایوه پوښتنه وه،لابه یې بوټونه ایستلي نه ووچې غږ به یې پورته شو :



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

ـ زما کالي ، هلئ ، زماکالي ... چي سخت نارامه یم ... هلئ ، هلئ ...  اوددغي لويي ستونزي لامل داوچي  دده به دکابل په هردروازه اوځلورلاره کي د سپيو تلاشيو لاسونه پورته ولاړو  ...
يوه ورځ يي غوښتل بالاحصار ووينی ، بله ورځ يي د شهدای صالحين زيارتونه وکړل، شاه دوشمشيره ته ولاړنه شو، ځکه ويل يي ، چي هلته دبی ګناه نجلی ويني توی شوی،نه چي خدای پاک دهغوظالمانوپه ګناه کي دی هم وشميري ...هلته دخدای مخلوق يوه بی ګناه اوهيله منه نجلی چي په خپل مراد پسي ورغلي وه په سوزيدو بدرګه کړه...اوهلته يوه معصومه ارواح  له نمردي قهره دخليل دباداړپرلورالوتلي ده...نه چي هغه مي وګوري اوراته ګوته په غاښ شي چي:دوی ماته ښه مراد راکړچي ته هم ورته هيله من يي ؟
داسي ښکاريده چي خان ماما کابل ښه نه لګيده، اوخوند يی نه ورکاوه په تيره په دغو ورځوکي چي هره ورځ به يي پر تابوتونوډکو لاريوسترګي لګيدي، پرهغولاريوچي ترمنزلګاه پوري به سپيو بدرګه کولي... هو، سپيو...  خان ماما پردغه راز هم نه پوهيده چي په دغه کارکي به دخدای ج څه حکمت وي، خو وروسته موږ پوه کړچي په کابل کي نن سبا دتابوتونو بازارښه په مزوکي دي، پردوکانويي خلک په کرښو اوکتارو کي ولاړوي ...د تابوتونو پردوکانوهم د سپيوپيري ولاړي وي ...  ماما دبازارپه هره خوا کي په دکانوکي تابوتوته کتل...او تابوتونه به داسي ورته ښکاريدل  چي ګواکي  ده ته خاندي اوده ته هم لکه د زرګونو بي ګناه افغانانوپه شان دښه راغلاست هرکلي وايي...

دتابوتونودهردکان مخي ته به بي شماره ډيبي سپي هم پراته وو، له کوم دکانداره يي ددغه رمز پوښتنه هم کړې وه ، هغه ورته ويلی ووچي هرڅوک چي تابوت واخلي ، دوی هم پرهغه سړي پسي بی بلنې روان وي، دوی ترډيره انسانانو پردي ښه پوهيږي چي تابوت سړي چيري اودڅه له پاره اخلي  ؟
ماما پوره يوه مياشت له موږ سره په کابل کي تيره کړه، په وروستۍ ورځ موهم يوه اوبلي خوا ته ښه په مزو وګرزاوه ، نورنو زموږ داسي خپلوان پاتي نه شوچي دماما به يي د زړه له کومي هرکلي نه وي کړی، لکه چي ياده مي کړه دی پرموږ ډير ګران و، دده هم زموږ له وړو او زړو سره د زړه له کومي مينه وه ، د زړه له کومي يي له موږ هريوه سره راشه درشه کوله، زموږ مشرکاکايي همزولی و، له هغه سره يي نه يوازې  دکابل چکري وهلي،  بلکه دواړو به دخپل ماشومتوب خوږې  خوږې خاطري چي زموږ له پاره به ترېوه حده نا آشنا هم ښکاريدې په مزو مزو سره  زموږ په مخ کي را يادولی :  هغه پلاني وخت دي ياديږي ... هغه زموږ دکلی ملا دي ياديږي  چي په لمانځه کي به يي آيات له ياده ووت  اوموږ به ترهغو پسي ولاړووچي څوبه يوچا ورياد کړ... ياديږي دي چي دغزني والي هغه خانان اوملايان چي ښوونځي يي نه جوړول تول بنديان کړي وو... ياديږي دې چي زموږ کليوالو دلومړي ځل له پاره راديووليده او ويي به يي چي دا سازنده ګان څنګه په دغه واړه کوټي کي ځای شوي دي...  په يادې دي چي هاشم خان سرمعلم کليوالو ته ويلي وو چي نورمياشتي ته دعا مه کوئ ، هغه امريکايانواو روسانو له  غ  ډکه کړې ده  ...
کيسه نوره نه اوږدوم، په هغه ورځ چي خان ماما بيرته غزني ته روانيده، پرتګ موږ تول خواپيتي وو، ځکه چي خان ماما ډيرخوږ سړی و، زما انا پوښتنه تري وکړه چي بيا به کله په خير کابل ته راځي ؟
دې ورته موسکي  شو :

ـ ادي چي کله دخدای رضا وه  ...
-بيشکه ، خو موږ درپسي خپه کيږو ... يوتاريخ خو ووايه  ...
-يه  زړ نه راځم ...
ـ بيا هم ؟
**ـ ادي ګلي ، ترهغوچي په کابل کي دسپيوتلاشئ  رواني وي ... او تابوتونو په دکانوکي ژونديوته ښه راغلاست وايی ... ترهغوبه بيا کابل ته کدم هم  راوانځلم ... خدای شاهد دئ چي  سپيومي څلق ډيرراتنګ کړ ...**
**دريغه چي کابل مي پردغه حال نه وای ليدلی !! ؟؟**

**د ۲۰۱۹ کال د جولای  ځلورمه**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالیږلو مخکي په ځير و لولئ